# وزیره (ناول)

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ليکوال: نعمت الله رحيمي

# بسم الله الرحمن الرحيم

(c) ketabton.com: The Digital Library



............کتاب پېژندنه:...............................................................................................

د کتاب نوم: **وزيره (ناول)**

ليکوال: **نعمت الله رحيمي**

اړيکه: **Niamatullahr3@gmail.com**

کمپوز: **خپله ليکوال**

د خپريدو کال: **2021 زېږديز ـ ۱۳۹۹لمريز کال**

..................................................................................................................................

ددې کتاب چاپ، پر وېب پاڼو او ټولنيزو رسنيو د خپرولو حقوق له ليکوال سره خوندي دي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ماښام وخت و، د کور مخې ته ناست وم، د غرو څوکې د لمر کيناستو پر وخت سرې ښکاريدې، موبايل مې له جېب راوباسلو، ډېټا مې چالانه کړه، د میسج شړنګ شو، ځیر شوم ورته د کاکا میسج و، لیکلي وو:
- حمزه زويه! که ماخستن چې د پلار راغی ماته پر واټسپ زنګ وکړه، يو څه مهمه موضوع ده.

ددې میسج ځواب مې ليکلو چې بل میسج راغی ليکلي وو:
- او ستا په ګټه دی، ته افغانستان کې ډېر په تنګ يې

مسیج ته په کتلو مسک شوم، د کور خوا مې منډه کړه، دروازه مې خلاصوله چې ملګري مې را غږ کړ:
- حمزه! راځه تراوسه وخت دی، يوه لوبه وکړو
- د څه شي لوبه؟
- ياره! هره ورځ لډو کوو کنه

ور روان شوم، بر په تيږو ناست وو، درى نور ملګري هم ورسره وو، يو ملګري مې وويل:
- حمزه نن يې درنه ګټو...

(c) ketabton.com: The Digital Library



څو شیبې چُپ شوم، وروسته مې وویل:
- ویې گټېځ! زه هسې درنه همدې ورځو کې ځم

ملگري رډ رډ را وکتل ومې ویل:
- سترگې دې مه راباسه، ځم درنه هسې تاسو بیکارانو سره زه هم بدنامه یم
ملگرو څه ونه ویل، لنډه شیبه وروسته یو ملگري ورو وویل:
- ښه! سیي ده ولاړې

غوصه شوم موبایل مې را پورته کړ ومې ویل:
- افسوس! چې اوس باور نه کوئ چې کله تللم بیا گورئ
ملگري په خندا شول زه همداسې ترې را روان شوم، ترڅو کور ته رسیدم ځان سره مې همدا دعاگانې کولې چې کاش کاکا مې ور وغواړي...

د شپې ډوډۍ مو وخوړله پلار ته مې وویل:
- بابا! لمونځ د نن په کور کې وکړه د کاکا درسره څه ضرور کار دی زنگ راوهي
- سمه ده! چې بیا څه وایي، حتماً بیا یې وچې میوې ته زړه شوی
- خیر بابا تراوسه خبره مالومه نده، چې زنگ ووهي پوی به شې

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدا خبرې مو کولې چې پر واټسپ زنګ راغی، ځواب مې ورکړ کاکا مې و، ویې ویل:

- بچی! پلار ته دې موبایل ورکړه

موبایل مې پلار ته ورکړ د بابا عادت دی موبایل کې خبرو کولو وخت د باندې وځي، دا ځل هم د باندې لاړ ډېر وخت یې خبرې کولې غوږ مې نیولی وو خو پلار صرف هو هو ویل د کاکا غږ نه راتلو، شیبه وروسته پلار خدای پاماني وکړه، ما خونې ته را منډه کړه لنډه شیبه وروسته بابا هم خونې ته را دننه شو، غلی ناست و، زما زړه درزیدو چې ویې ویل:

- حمزه! سبا به دې له مور پیسې واخلې ځانته پاسپورټ جوړ کړه

ځان مې ناګُمانه ونیولو، ومې ویل:

- خو ولې بابا؟

- لرېکه کاکا دې ښه وایي دلته له تا څه نه جوړېږي، هلته یې د کوم افغاني ملګري هوټل کې درته کار پیدا کړی، د ویزا کارونه هم د هغې هوټل مالک درته جوړوي

سرمې وښورو ومې ویل:

- سمه ده، څنګه چې ستاسو خوښه وي

ورځ سبا شوه، خو ټوله شپه ویښ وم، اختر و پر ما، د سهار وخت کې مې سترګې پټې شوې وې...

(c) ketabton.com: The Digital Library



مور راباندې غبږ وکړ:
- پاڅه وه، انگریزه! له ځان نه دې سر له اوسه انگریز جوړ کړی.
راویښ شوم، په منډه مې مخ او لاس ومینځل، مور ته مې وویل:
- ادې پیسې راکړه! چې پاسپورټ جوړول ډېر وخت نیسي.

مور پیسې راکړې، له کور را ووتلم، په لاره مې ملگری ولید ویې وویل:
- راځه حمزه لډو وکړو
- ما خو تیر ماښام وویل تاسو ونه منله، زه ځم
- خو چیرې ځې، اوس خو ووایه
- اوس خو د پاسپورټ ریاست ته ځم، پاسپورټ جوړوم، خو په راتلونکې اونۍ کې به درنه والوځم، امریکا ته!
- ښه! داسې ده

خوشحاله وم، په سندرو سندرو په لاره روان وم...

- دوه ورځې وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاسپورټ مې جوړ شوی وو، همدې ورځ باندې مې له یو نږدې پوسته خانې څخه را واخیست سفارت ته مې تسلیم کړ، دوه یا دریو ورځو کې د ویزا او تګ نور کارونه خلاصیدل...

د مازدیګر وخت و، ملګرې مې راغلې وو کیسې مو کولې ملګرو منلې وه چې زه بهر ته ځم، نو عجیبې عجیبې پوښتنې یې کولې، همدا وخت وو چې پلار مې له دندې راغی زه یې ولیدم را غږ یې کړ:

- وه حمزه راځه کور کې خپلې جامې او اړین شیان ټول کړه، کاکا د زنګ وهلی وو چې له سفارت کارونه ژر خلاصیږي شاید سبا ته یې ټول کارونه خلاص شي.

- سمه ده، دا دی درغلم

لنډه شیبه وروسته کور ته لاړم...

- د تګ ورځ

ماښام کیدونکی و، د خدای پامانۍ لپاره ټول لرې او نږدې خپلوان راغلي وو

(c) ketabton.com: The Digital Library



له کور وتلو بیک مې موټر کې کېښود زه د خدای پامانۍ لپاره مور ته ورغلم لاس مې ښکل کړه ورته چې خپل له پلو لاندې یې یو پیاز را وویست ویې ویل:
- زویه! که په لاره دې زړه بد بد کیدو نو دا بوی کړه، رک روغ به شي.

خندا راغله خو د مور په خاطر مې څه ونه ویل پیاز مې واخیست، له کور روان شولو...

هوایي ډګر ته ورسیدم، راسره راغلي خپلوان بیرته ولاړل...
لومړی ځل مې و، چې الوتکه کې کښېناستم نو ځکه لومړی لږ وېریدم په سترګو مې لږ تیاره وه، خو لومړی تر دوبی پورې سفر لنډ و، ژر ورسیدو له هغه وروسته تر امریکا اوږد سفر و، ویده شوی وم د الوتکې کېناستو وخت انونسمېنټ را ویښ کړم...

هوایي ډګر ځخه را ووتم، موبایل مې له جېب را وویست، غوښتل مې زنګ ووهم خو پام مې نه و، چې زما موبایل کې د افغانستان سیم کارټ پروت دی، څو شیبې په تمه وم، پر یو څوکۍ کښېناستم، مخکې مې سترګې د خلکو پر یو قطار ولږیدې د ټولو لاس کې سپینې ورقې وې، له لرې ښکاریدل چې د هغو مسافرو نومونه دي چې دوی ورته په تمه دي، همدا شېبه د ځینو فلمونو صحنې رایادې شوې چې له هوایي ډګر همداسې په بهر ملکونو کې مسافر خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروستنی همسفر پیدا کوي، لرې وو نومونه سم نه ښکاریدل څو گامه ور مخکې شوم د یوه لوړ نري ځوان په لاس کې سپینه پاڼه وه سرچپه یې لاس کې نیولې وه، لږ مې سر ور کوږ کړ زما نوم پرې لیکلی و، په زړورتیا ورغلم ومې ویل:

- اوهووو! وروره یو ساعت شو را گرځم خو زه نه پوهیدم چې ما پسې داسې څوک لیږلي چې نوم نشي لوستی او سرچپه دی

ځوان ځیر شو کتل یې راته له جیب یې موبایل را وویست یو ځل یې موبایل ته وکتل بیا یې ماته وکتل ورو یې له ځانه سره وویل:

- هو هو همدا دی

ما ترخه مُسکا وکړه ومې ویل:

- مطمئینه شوې؟ اوس لاړ شو

- ځو ځو لا اوږد سفر مخکې لرو دومره الوتکې را ورسولې نور به د ځمکې سفر وي

- نو نور چیرته؟

- هوټل دلته نه دی، د امریکا په یو خیالي سیمه کې دی

- هغه نو کوم ځای دي؟

- اریزونا!

دواړه غلي شوو، خپل بیک مې راسره واخیست موټر ته پورته شوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



الوتکه کې مې خوب کړی و، خو الوتکې به یوه یوه جېپه وخوړله راویښ به شوم ځکه مې خوب سم نه و پوره...

موټر حرکت وکړ پښتو سندره چالانه وه، د امریکا په سړکونو د پښتو سندرو هم بېل خوند وي، سندرې ته غوږ وم سترګې مې پټې شوې...

ویده وم ساعتونه تیر شوي وو، سترګې مې خلاصې کړې د موټر جلب باندې ځوان را وکتل مُسک شو ویې ویل:

- را ویښ شوې؟ ښه خوبونه دې ووهل

- هو والله!

- دا دی له دې ځایه د اریزونا نه ختمېدونکې دښته او بې سارې ښکلا پیل کیږي

ریښتیا هم! اریزونا یې د خپل نوم په شان عجیبه ښکلا درلوده، د سرو خاورو دښته، د دښتې منځ کې تک تور سړک، ځای ځای واړه او لوی عجیب غرونه، او د سرې دښتې منځ کې د کاکتوس لوی او کوچني بوټي...

شیبه وروسته ځوان وویل:

- نور زموږ منزل را رسیږي دا چې دا د اریزونا لومړي سرونه دي، هوټل دلته دی ځکه مسافر که وږي وي که نه وي، خو دلته له شوقه حتماً راځي که دلته څه ونه خوري نو له ځانه سره یې وړي.

- ښه ډیر ښه

(c) ketabton.com: The Digital Library



- او هو آغه ويني؟
- څه؟
- هغه کوچنی کور.
- هو
- هلته به ستا د اوسيدو ځای وي، خو بدبختانه...
- خو بدبختانه څه؟
- ههه! ټوکې کوم ستا د خونې ملګرې لږ شيشکه ده

سترګې مې رډې رډې را ووتلې چې د خونې ملګر ې مې انجلۍ ده، ورو مې وويل:
- نو زما سره به يوځای وي؟ انجلۍ؟
- خود نو دا خو امريکا ده دلته دا خبرې عادي دي

غلی شوم لنډه شېبه وروسته ځوان وويل:
- خو خپه کېږه مه فيرنګۍ نده افغانۍ ده
د سر په ښورولو مې د هو اشاره وکړه، موټر لا روان و، لږ مخکې موټر ودريدلو، له موټر ښکته شوم...

هوټل ته دننه شوم، ځوان راپسې و، ورو يې غوږ کې راته وويل:
- هغه بهرام کاکا دی، د هوټل مالک
- ښه اوس ورشم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- خود ورشه، ګوره صاحبه دلته امریکا ده که بې زړه توب دې وکړ نو دلته ژوند نشې کوی...
ځان مې ښه قوي ونیولو څو ګامه مخکې ولاړم، ومې ویل:
- سلام علیکم! بهرام کاکا

بهرام کاکا په اندام لوی او قوي سپین ږیری و، راته ځیر شو ویې ویل:
- وه حمزه زویه پخیر پخیر، په خیر خو را ورسیدې؟
- مننه کاکا بیخي ښه سفر و
- کینه زویه ولې ولاړ یې

کښېناستم لومړی ورځ وه، د ملیمه غوندې مې قدر وشو، د شپې تر ناوخته ناست وو، همدې وخت کې مې کور ته هم زنګ ووهلو، د فیسبوک سټوري ته مې هم خپل د پخیر رسیدو خبره پوسټ کړه، شپې ۹ بجې کیدونکې وې چې کاکا بهرام غږ کړ:
- شوکته زویه! راشه حمزه ته یې د اوسیدو ځای ور وښایه
بیرته ځواب تر غوږ نه شو ومې ویل:
- بهرام کاکا
- وایه زویه
- د اوسیدو ځای خو ما لیدلی لږ مخکې دی له هوټل که څوک نه وي زه خپله ولاړ شم؟
- خو تا څه لیدلی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هغه ځوان چې هوايي ډګر ته راپسې ر اغلی و، ډېر ځايونه يې راته وښودل الله د خير ورکړي
- ښه نو زويه چې داسې ده ورشه، ماشا الله له لومړۍ ورځې د ځان راته ګران کړ
مُسک شوم ومې ويل:
- اممم! خو د هغه کور کلی راکړه چې ولاړ شم
- ځه زويه پخير لاړ شې کور خلاص دی، هغه پکې ده

روان شوم...
څو دقيقې وروسته همغه زما د اوسيدو کور ته ورسيدم، د کور مخې ته سړک وو، يو لويه څوکۍ هم ايښې وه، يوه شېبه مې د کښېناستو نيت وکړ
کښېناستم هوا نسبتاً سړه وه ډېر خوشحاله هم وم سوچونه مې کول، چې د يو غټ ټېلر د هارن غږ مې سوچونه را خراب کړل، ځانه سره مې وويل:
- اممم! خو دلته خوب کول هم سخت دي...
همدا خبره مې کوله چې د کور له کړکۍ غږ وشو په انګريزۍ کې يې وويل:
- ته څوک يې؟ هلته څه کوې ځه له هغه ځايه ورک شه
شاته مې وکتل پوی شوم چې هغه شيشکه همدا ده، کور ته ورننږدې شوم هغې بيا وويل:
- ګوره ځه ورک شه، ګني پوليسو ته به زنګ ووهم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ومې ويل:
- زه حمزه يم، بهرام کاکا وويل چې زه به هم دلته اوسيږم
غلې شوه، ترخه مُسکا يې وکړه ويې ويل:
- وبښه! صبر زه درځم دروازه خلاصوم

لنډه شېبه وروسته يې دروازه را خلاصه کړه، د هغې د مخ هېنداري
ته سوچ وړی وم، دنگه ونه يې وه، ويښتان يې خلاص پريښې وو،
غتې او مړې سترگو يې عجيب تاثير راباندې وکړ گني زه د هرې
انجلۍ کيسه کې نه کيږم، همداسې مې ورته کتل چې ويې ويل:
- اووو‌ی! صاحبه په شا دې دننه نشم وړی نور نو خپله تشريف
راوړه
دروازه يې خلاصه پريښوده دننه ولاړه زه هم ورو ورو دننه شوم...
عجيبه غوندې کور و، پخلنځی د خوب تخت د کښېناستلو کوچونه
ټول يو ځای کې وو، نو ومې ويل:
- دا نو څه رقم کار شو دا کوم ماډل کور دی؟
- ته په څه پوهيږې دې ته ستوډيو اپارټمېنټ وايي
- هرڅه چې وي نو دلته خو بله خونه هم نشته نو زه او ته به چېرته
ويده کيږو؟ يعنې جلا خونه نشته؟؟
- نه ولې نه هغه تخت دی دواړه به يو ځای پرې ويده کيږو

عجيب حس مې وکړ زړه مې باغ باغ شو، په احساساتو راغلم ومې
ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- نو اوس په ریښتیا زه او ته به یو ځای ویده کیږو؟

هغې لومړی ترخه مُسکا وکړه، لنډه شېبه وروسته یې په غوصه وویل:
- نور څه خدمت وي؟ ولې زه ستا ښځه یم چې یو ځای به ویده کیږو تا به امریکا فلمونو کې لیدلي وي خو دلته هم ادب او عزت په نوم څه شته

چُپ شوم، رنګ مې واوښت بیا یې وویل:
- ته ما پیژنې؟
- نه نو څه د پیژنم؟ څوک یې؟
- زه وزیره یم وزیره! ماسره ځان مه وهه ورشه پر کوچ پرېوځه تخت زما دی
لومړی ځل و چې د یو انجلۍ تر تاثیر لاندې راغلی وم، سر مې ښکته واچولو روان شوم، ورو مې مخ ور واړولو ومې ویل:
- خو ته دې څه شي وزیره یې؟

بد بد یې را وکتل په لوړ غږ یې وویل:
- آاااه! تاته یې څه زه د خپل ژوند وزیره یم، ځه ویده شه ولاړم، پر کوچ پرېوتم، موبایل مې را واخیست سیم کارټ خو نه و، میوزیک پلېیر مې خلاص کړه، موبایل مې یو ورځ مخکې له انګریزي سندرو ډک کړی وو ځکه چې دلته خو امریکا ته ښتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سندرې خو څوک نه اوري، د یوې انګریزۍ سندرغاړې یوه سندره مې پلې کړه، شېبه وروسته یې د خپل خوب له ځای را غږ کړ، په یو ورځ کې انګریز شوې؟ بند کړه زه ویده کیږم او بیا زما مخ کې دا انګریزي سندرې چالانې نه کړې، خبرو ته یې غوږ وم څه مې ونه ویل ویده شوم...

- ۲۰۱۸ میلادي کال

ښه مې یاد ده لومړۍ کار ورځ وه، د شپې تر ناوخته خوب نه راتلو ځکه ناوخته ویده شوم ځکه چې خوب مې ډېر کړی و، سهار هم وختي ویښ شوی وم، لومړی مې چې سترګې خلاصې کړې هغه مې ولیده سپین ټیکری یې پر سر وو پر جاینماز ناسته وه، سترګې مې نیمې پټې ونیوې چې ګُمان وکړي زه ویده یم، سلام یې وګرځولو سپین ټیکري کې ښکلې ښکاریده

د جاینماز یو کُنج یې ورټول کړ را پورته شوه، په ورو ورو زما خواته را نږدې شوه یو دم یې په زوره چغه کړه:

- انګریزه!!! ویښ شه لمونځ وکړه

ویښ خو وم، خو ژر مې سترګې خلاصې کړې نو ویې ویل:

- آفرین! دغسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لمونځ مې وکړ، همداسې ناست وم له لمانځه وروسته خوب بیا خوند نه راکولو سهار وختي و، ځکه یو یو موټر پر سړک تیریدلو نور څه نشته وو، هغه یې پر خپل ځای کې ځملاستلې وه، ما ور کتل چې له کمپلې یې سر را وباسو ویې ویل:

- خیریت دی؟ ولې راګورې انجلۍ دې مخکې لیدلې نده؟

هیڅ مې ونه ویل ځکه ما به تل ویل چې تر ما تیزه ژبه بل څوک نه لري خو ددې پر وړاندې به ګونګی شوم...

هغه له خپله ځای پاڅیده له ځانه سره یې ویل:

- وخت خراب وزیرې اوس نو دلته په بې غمه زړه خوب هم نه شو کوی څه چې ځان تیار کړو او ځو به پرون خو مو هسې رخصت وکړ

خبرې مې یې واوریدې پوی شوم چې ماته یې په رموز کې وویل چې ځان تیار کړه هغه حمام ته ولاړه تر هغې مخکې مې ځان تیار کړ...

دواړه تیار شوو، د هوټل په لوري پیاده پیاده روان وو، دا ځل اغلې وزیره چُپ وه ومې ویل:

- ستا نوم څه دی؟

- اممم! وزیره یم کنه

- پریږده نو زما پر تندي هم خر ندی لیکلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



له لنډې شیبې وروسته یې وویل:
- زما نوم فاطمه دی، خو له دې نوم کرکه لرم لومړی کس یې چې تاته خپل نوم وایم ماته ټول نړدې ملګري وزیره وایي.
- وښه شخصي پوښتنې کوم خو اوس یو ځای کار کوو کیدای شي ډېر وخت سره یوځای وو، خو له دې نوم ولې کرکه لرې؟
ځو شیبې غلې وه، ویې ویل:
- پوهیږې؟
- په څه؟
- دا چې زما مور او پلار واده وکړ
- ههه! نو واده خو به یې خود کړی وي ځکه خو ته نړۍ ته راغلې په غوصه یې وویل:
- اوس چې درته خپل د ژوند کیسه کوم نو چُپ اوسه

سر مې ښکته کړ ومې ویل:
- ښه
- اممم! تراوسه وختي دی هوټل ته پیرودونکې کم راځي، دلته به کینو

پر یوې ځوکۍ کښېناستو شیبه وروسته هغې وویل:
- کله چې زما مور او پلار واده وکړ وروسته زما له زیږیدو هغوی پوی شول چې دوی د یو بل لپاره نه دي جوړ شوي، له یو بل یې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



طلاق اخیستلو پریکړه وکړه، طلاق یې واخیست خو زه نه مور غوښتم ته هم پلار ځکه یې زه دې ۱ کال په عمر د سړک په سر پریښودم، او له هغې ورځې بهرام کاکا له سړک پورته کړم تراوسه یې د خپلې سکه لور په څیر لویه کړې یم، کار کول مې عادت شوی ګڼي بهرام کاکا د خپل لاس سپکولو لپاره زه له سړک نه یم پورته کړې هغه ډېر مهربانه انسان دی...

تر ډېره ورته غوږ وم سترګې مې ډکې شوې ځکه زه درک کوم چې ښځه (انجلۍ) ډېر یو معصوم ذات دی هغې را وکتل له دستکول یې ټیشو (کاغذي دستمال) را وویست ویې ویل:

- واخله! ولې مې احساساتي کوې زما لپاره تراوسه چا اوښکې ندي تویې کړې

مُسک شوم ومې ویل:

- ملګري؟

- اممم! اول مې درته بد فکر کولو ځکه ته پوهیږې چې زمانه خرابه ده خو هو بس نور ملګري یو...

خوشحاله شوم، یو دم مې وویل:

- سمه ده! خو یوه بله پوښتنه؟

- اوهووو! ښه ووایه

- نو ته د واده خلاف یې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- نه نه د واده خلاف نه یم خو واده باید په خپله خوښه وشي نه غواړم بله فاطمه نړۍ ته راشي...

خوشحاله وم، خو ددې کیسې په اوریدو خپه هم شوم ، هوټل ته ولاړو...

د کار لومړۍ ورځ راته ډېره سخته ښکاریدله خو د وزیرې په ملتیا داسې تیره شوه چې هیڅ پوی نه شوم د بیرته تګ وخت و، ټولو یې خپله ورځینۍ تنخوا واخیسته د بهرام کاکا په لور ورغلم همداسې ودریدم بهرام کاکا وویل:

- څه غواړې؟

شرمیدم ځکه غلی وم خو په زړه مې تیره کینبوده ومې ویل:

- تنخوا؟

بهرام کاکا ترخه مُسکا وکړه ویې ویل:

- څه ځغله، دا د ویزا او راتګ مصرف به څوک ورکوي، لومړی دې قرض خلاص شي...

- ښه، سمه ده

غلی روان شوم، چې بهرام کاکا غږ کړ:

- وه حمزه! دلته راشه

بیرته څو ګامه شاته ولاړم ومې ویل:

- اممم کاکا؟

۱۲ ډالر یې راکړل ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- واخله دومره ظالم نه یم دا دې یو څو ورځو خرچې
مُسک شوم ومې ویل:
- مننه کاکا
وزیرې را غبږ کړ:
- حمزه ژر راځه ګني ځم درنه
ور منډه مې کړه ورغلم
کور ته را ورسیدو، وزیره غلې وه ومې ویل:
- را وغږیږه زه خو سیم کارټ هم نه لرم چې فیسبوک وګورم
تراوسه مې دوه ځایه وړیا وای فای پیدا کړی بس
وزیره په خندا شوه ویې ویل:
- هههه! سبا به درته سیم کارټ واخلم خو په قرض
- مننه
- ښه نو تا ویل را وغږیږه صبر زه درته کیسه وکړم
- اممم څومره ښه وکړه
- داسې وه چې... نه پریږده یې نه یې وایم
- څه وشول ووایه نو
- نه پریږده بیا به وډار شې
- ښه پریږده یې زما د ویرې کیسې ندي خوښې
- نو خو صبر وایم یې
- نه نه نه
یو دم یې وویل:
-  ته چُپ شه زه کیسه کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



غلی شوم کیسه یې پیل کړه:

- له دې ځای لږ ها خوا یوه پخوانۍ قلا ده، د سړک په سر ده کله چې تیاره شي تل نه خو کله کله لکه نن چې د چهارشنبې شپه ده نن هم داسې کیږي هلته چې کوم موټر تیریږي هلته موټر خپل په سر بند شي کله چې موټر وان له موټر ورښکته شي هغه پخوانۍ قلا ته یې کش کړي او سبا ته یې له هغې ځای مړی را وباسي، مسلمانان وایي چې پیریان دي خو ددې ځای خلک بیا وایي چې یو کس ژوندی پاتې شوی لیدلي یې وو، وایي زامبي دي

په خندا مې وویل:

- ههه! نور مې باور کولو خو دا زامبي چې دې وویلې پوی شوم چې هسې ډارول کوې

- زړه دې منې یې یا نه ما خو وویل

ولاړه پر خپل ځای کې خملاسته، زه ناست وم یو مې ساړه کېدل بل ویریدم خو ځان مې غیرت کې نیولی و، څو شیبې وروسته وزیرې را غږ کړ:

- ایف ډبلیو ۵۰ زره

- څه؟

- هاټسپاټ مې چالان کړی دا یې پاسورډ ده نیم ساعت وخت لرې بیا اوتومات بندیږي

- ههه ښه مننه ډیره زیاته

(c) ketabton.com: The Digital Library



- زه ویده شوم نو ښه شپه

وای فای ونښلیدو د ملگرو ډېر پیغامونه راغلي وو، داسې ملگرو راته پیغامونه رالیږلي وو چې په کلونو مې لیدلي لا نه وو، ویریدم یوه کړکۍ خلاصه وه د خونې پردې خوځیدلو باندې هم ویریدم له انټرنیټ مې خوند وانه خیست چې د فیسبوک پر نیوز فیډ مې یو خبر ولید دې ( یو ایس اې ټوډې) پاڼې خپور کړی وو لیکلي وو:
- د موسم د خرابیدو وړاندوینه شوې ځکه د اریزونا پر لویه لاره د لویو او وړو موټر تگ راتک تر راتلونکو ۲۴ ساعتو پورې بند دی، هیوادوال دې تر راتلونکي خبر په تمه وي.

له ځانه سره مُسک شوم او ویده شوم...

وخت ډېر ښه تیریدو، لومړی چې راغلم رنگینه امریکا راته خړه پړه ښکاریده خو نه پوهیدم چې وزیره به زما دې ړنگې بنگې امپراتورۍ رنگینه شهزادگۍ جوړیږي او زه هغه بې زړه امپراتور چې د مینې الهام راباندې راځي خو په پاڼو یې د لیکلو توان نه لرم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د غرمې وروسته به پیرودونکي کم وو، زموږ د ډوډۍ خوړلو وخت وو، ډوډۍ مو وخوړله وزیره پورته شوه، بهرام کاکا به وختي ډوډۍ خوړله ځکه شکر ناروغي يې درلوده، هغه ناست و، چای يې څکلو وزیره ورغله ويې ويل:

- کاکا! زه او حمزه به نن وختي لاړ شو

- ولې؟ خیریت و؟

وزیره مُسکۍ شوه ويې ويل:

- هو کاکا خیریت دی، حمزه سیم کارټ نه لري او ځينې نورې اړتیاوې يې دي بلد نه دی زه ورسره ځم، سیم کارټ به هم واخلو او نور څیزونه هم.

بهرام کاکا ماته را وکتل، ويې ويل:

- ژر ژر دې ډوډۍ وخوره، دا انجلۍ لومړۍ ځل دی چاسره دومره مرسته کوي، ډېره بې پروا ده

ومې خندل، وزیرې وویل:

- ته هم کاکا، هههه!

له ځای مې پاڅېدم، لاسونه مې ومینځل او له هوټل د باندې ووتلو د سړک سره ولاړ وو، ومې ویل:

- راځه نو اوس د موټر سَیل ولې کوې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- اوهووو! بازار مخکې دی دلته بې د بهرام کاکا له هوټل صرف څو د چرګانو فارمونه دي، چرګان درته واخلم؟
- هههه! ښه سمه ده

يو ټکسي له لرې تر سترګو کيده، را نږدې شوه ودريدله، وزيره ته يې پورته وکتل په انګريزۍ يې وويل:
- ته همغه شيشکه يې والله که...
موټر بيرته ولاړ وزيرې ورپسې غږ کړ:
- شيشکه به دې ادې وي!!!
ومې خندل، وزيرې وويل:
- ته اوس څه ته خاندې؟
- هههه! يو بل چا هم ويلي وو، چې ته ډېره شيشکه يې، خو!
- خو! څه؟
- خو، نه پوهيدم چې تاته ټول ښار شيشکه وايي، هاهاها!
- ځه موسم خراب دی، موټر نه پيدا کيږي اوس د پياده بيايم

همداسې ورو ورو روان وو، وزيرې ته مې ور وکتل ومې خندل وزيره په خپل دستکول په ځت ووهلم....
بازار ته ورسيدو سيم کارټ مو واخيستلو، وزيرې وويل:
- ته دلته اوسه، زه يو څه اخلم ژر راځم
شيبه وروسته وزيره له پلورنځي را ووته د ږيرې جوړلو ماشين يې لاس کې و، ماته يې راکړ، ومې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- دا څه کړم؟
- واخله له ځان نه دې څه جوړ کړي، په دې خپله بړیره اصلاح کوه

زه هم احساساتي شوم، نږدې مې دې مننې لپاره غیږه ورکړې وه خو شرم و، مننه مې ترې وکړه...

کور ته راورسیدو، په خبرو خبرو کې څنګه تیاره شوه هیڅ پوی نه شوم، امریکا کې تر ناوخته د ویښ پاتې کیدو فرهنګ نشته و، نو وزیره یې د خوب ځای ته ولاړه ما خپل موبایل د میز له سر را پورته کړ پر واټسپ مې پلار ته زنګ وکړ پلار سره مې خبرې وکړې، موبایل یې زما مورکۍ ته ورکړه مور وویل:
- څنګه یې زویه؟
- شکر بیخي ښه یم
- ښه شکر! سم خوراک خو کوې، نه چیرته هلته به اوس هغه برګر شیان خورئ وطني خواړه به له کومه شي
- نه نه مورې! دا زموږ هوټل چې پکې کار کوم په همدې افغاني خواړو مشهور دی
- ښه زویه! بس کار کوه اوس خو په خپلو پښو ودریدې نو زه به هم یوه ښایسته انجلۍ درته وګورم...

ژر مې وویل:
- نه نه مورې انجلۍ پسې ونه ګرځې

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ولې ولې زویه
- ولې نه بس هسې

مورکۍ مې ډېر ټینګار وکړ، خو همرازه مې وه ومې ویل:
- بس مورې نور څه نه وایم خو اېنګور مې درته پیدا کړې
نیتې ضعیفه شو، خبرې ځای پر ځای پاتې شوې، وزیره یې نیغه په ځای کې کیناسته زما خواته راغله، رډ رډ یې را کتل ومې ویل:
- ته خو ویده وې؟
- نه نه یاره! خو ته دا څو ورځو کې بیا په چا مئین شوې؟
- تا زما خبرو ته غوږ نیولی و؟
- موبایل  کې سمې چغې وهې نو که غوږ ونیسم یا نه ټول یې اوري

چُپ شوم ویې ویل:
- خو ووایه په چا مئین شوی یې؟

غلی وم په زړه کې مې ویل:
- اوس څنګه درته ووایم؟ چې په تا مئین یم په یو نظر کې دې زما زړه وړی، که ووایم نو چیرته یې مني چې څنګه په دومره کم وخت کې؟

یو دم مې وویل:
- مینه درسره لرم

(c) ketabton.com: The Digital Library



راته ځير شوه ويې ويل:
- هلکه! ته دا فلمونه کم ګوره
- ولې؟
- نو فلم خو نه دی، چې ډرت ووايې مينه درسره لرم، مينه خو داسې نه کيږي

غلی شوم ومې ويل:
- په خدای چې ليدلې مې داسې ښکارې چې له کلونو دې پيژنم، ما به تل ويل چې څنګه يو څوک ټول عمر له يوې ښځې سره تيروي، خو ستا په ليدلو وروسته خدای ته دعا کوم چې که ته زما شوې زما د ژوند يو څو کلونو دې زيات شي، ځکه ستا سره مې وخت داسې تيريږي چې هيڅ نه پوهيږم

وزيره غلې وه، د خپل خوب ځای ته ولاړه را غبږ يې کړ:
- خير دا ستونزه به سبا حل شي
مُسک شوم ما ويل ګواکې سبا به هرڅه سم شي چې بيا يې وويل:
- سبا به بهرام کاکا ته ووايم چې دلته به يا زه اوسم يا حمزه، ما غلط درک کړې ښښه غواړم ته هم دې نورو هلکانو په څېر يې، خپل اصلي رنګ دې وښودلو

رنګ مې زيړ واوښت د تخت خواته يې ورغلم پر ځمکه کښيناستم زاری مې کولې چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- خدای ته وګوره که زه یې له کار وویستلم نو زه به څه کوم لا خو د راتګ قرض راباندې پاتې دی د بیرته تګ پیسې به له کومه کړم؟ اوس چې زړه درباندې مئین شو زما ګناه څه ده؟ او ما خو ندي ویلي چې ته هم باید حتماً راسره مینه وکړې خو دې زړه خبره مې وه درته ومې کړه

وزیرې یې سر کمپله کې پټ کړ ویې ویل:
- چې تر سهاره هم غذر وکړې نه دې بښم

ما همداسې ورته عذر کولو، خوب راباندې راغی د تخت په څنډه مې سر ایښی و ویده شوی وم، سهار مې سترګې خلاصې کړې لږ څه ناوخته شوې وه وزیره یې په ځای کې نه وه تللې وه، په شا مې یوه کمپله را پرته وه
ژر ژر ولاړم ځان مې تیار کړ هوټل ته په منډه ورغلم ما فکر کولو اوس به کډه را په شا کړي خو چې ورسیدم بهرام کاکا وویل:
- زویه ولې دې ناوخته کړه ژر ورځه نن پیرودنکي ډیر دي.

پوی شوم چې کاکا ته یې څه نه دي ویلي، د کار یونیفورم مې واغوست، پخلنځي ته دننه شوم وزیره دریدلې وه، زه یې ولیدم ژر ووتله، ځان راته ډیر بد ښکاره شو، ټوله ورځ همداسې تیره شوه، د غرمې ډوډۍ وخت و، ټولو پخلنځي کې ډوډۍ خوړله زه ورغلم، وزیرې ولیدم ډوډۍ یې پریښوده همداسې ولاړه، ټولو راته برګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



برگ کتل ما هم ډوډۍ ونه خوړله، کاري وخت په خلاصېدو و لاړم ترڅو کالي بدل کړم کله چې را ووتم وزيره کور ته تللې وه، بهرام کاکا ته مې وويل:

- کاکا! زه نه غواړم يو انجلۍ سره يو ځای واوسم

کاکا راته رډ رډ وکتل ويې ويل:

- ولې؟

- بس خوند نه راکوي هغه به زما د خاطره په عذاب وي، يو هلک سره يوځای اوسيدل انجلۍ ته سخت دي

کاکا غلی شو، لنډه شيبه وروسته يې وويل:

- چې داسې ده ورشه خپل کالي دې راوړه همدلته ويده کيږه هوټل هسې دې شپې بند وي، زما به هم زړه ډاډه وي چې هوټل کې يو څوک شته

د هوټل يو بل کاريگر ته مې ورغږ کړ ومې ويل:

- خير ده ورشه زما کالي بيک او چارجر راوړه زه نور دلته اوسيږم

هغه ولاړ زما بيک او چارجر يې راوړ، شپې او ورځې تيرې شوې زه دې وزيرې غم اخيستی وم او وزيرې به گُمان کولو چې دا بد هلک دی، دې خبرو مې زړه اوبه اوبه کړی و، ۱۵ ورځې تيرې شوې که پخوا هغې رانه مه اړولو اوس ما داسې کول نه مې غوښتل  زما په کتلو ورته ستونزه جوړه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپاړسمه ورځ وه، پخلنځي کې مې لوښي مينځل وزيره راغله بې له څه ويلو يې د لوښو مينځلو کې راسره مرسته پيل کړه يو قاب باندې يې د صابون په ځگ په انگريزۍ راته (ساري) وليکل زړه کې مې د خوشحالۍ زلزله وشوه د خوشحالۍ له امله مې بدن شان رپيدو، خو ضد مې وکړ قا ب مې راواخيست ومې مينځلو ځان مې داسې ونيولو چې گواکي هيڅ يې کيسه کې نه يم، پوی شوم چې خپه شوه، سر يې ښکته واچولو لاړه...

د همغې ورځې يو ورځ وروسته سهار وخته هوټل ته راغله خپل يونيفورم يې واغوست زه ناست وم چای مې څکلو نور هيڅوک لا راغلي نه وو، وزيرې له ځان سره په زوره ويل:
- مينه خو داسې نه کيږي، انجونې ناز کوي، او بل په يو دم داسې خبره چې هرچاته څوک وکړي، نو نه يې مني، خو خلک چيرته پوهيږي؟

ما هم وويل:
- څوک چې چاسره مينه نه لري، نو نه لري خو مينې ته درناوی ښه شی وي، چې هرچا ته تروش تندی ونيسي زړه يې خپه کيږي

همغې بيا وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- څوک چې مئین وي بیا معشوقه یواځې نه پرېږدي، بې غیرتو غوندې ترې تښتي نه، نظر نه غلا کوي ترې، خو خلک هسې وایي چې مینه لرم

ومې ویل:
- پرېږده یې...

چې یو دم راغله په ځمکه کښیناسته له لاس یې ونیولم، غټې سترګې یې اوښکو ډکې وې ویې ویل:
- تا خو به ماته وخت راکړی و، لومړی کس وې چې د خپل فکر مې درته کولو، تا هم پرېښودم، اوس به زه په هیچا باور نه کوم

ومې ویل:
- ما هیڅوک ندي پرېښي د خلکو له چلند همداسې ښکارېدل چې باید یواځې پرېښودل شي

غلې ناسته وه په ژړغوني غږ یې وویل:
- تا زه بیا یتیمه کړم!

ژر مې را پورته کړه له لاسو مې ونیوله په ژړا کې مې وویل:
- لیونۍ یې! زه تاته د پلار مور د هرچا مینه درکوم، پام چې بیا داسې خبره ونه کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلکه غیبره یې راکړه، ژړل یې ما هم پریښودل چې زړه یې تش شي، خپل نرتوب رانه هیر و، یوځای مې ورسره ژړل چې یو دم مې له غیږې لرې شوه

ومې ویل:

- اوس بیا څه وشول؟

په سترګو یې راته اشاره کوله ومې ویل:

- ولې ګونګۍ شوې؟

چې بهرام کاکا غږ وکړ:

- ښه نو دا خبره وه چې مجنون او لیلا دومره ورځې ګونګې وو؟

دواړو سر ښکته اچولی و، بهرام کاکا وویل:

- راشئ کینئ!

کښیناستو بهرام کاکا وویل:

- ما خو ستاسو ټولې خبرې واورې، نو تاسو واده ولې نه کوئ؟

ژر مې وویل:

- نه کاکا واده خو به کوو، خو زه باید کورنۍ ته خبر ورکړم لږ وخت به صبر وکړو ترڅو نور هم یو بل وپیژنو نه غواړم چې بیا زموږ د ستونزو په سر بله فاطمه نړۍ ته راشي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وزیره مُسکۍ شوه ویې ویل:
- زه یې منم، خو شکر ما هوښیار انسان سره مینه کړې

کاکا ترخه مُسکا وکړه ویې ویل:
- شرمیږئ نه! زما مخ کې مو د مینې خبرې شروع کړې

پخلنځي ته ولاړو، دواړو عجیب احساس کولو غلي وو، ما وویل:
- پام چې څو ژوندۍ یم بیا ځانته یتیمه ونه وایې، پوهیږم د پلار مینه دې نده لیدلې خو که پلار او مور دې ژوندي هم واي وروسته تر واده تر چې څوک تر مرګه درسره وي هغه خاوند دی او خاوند به زه وم

وزیرې وخندل...

ماښام کیدونکی و، کاري ورځ په ختمیدو وه وزیرې ته مې وویل:
- نن وختي مه ځه وروسته دې زه تر کوره رسوم
- ولې؟ او ته بیرته کورته راسره نه ځې
- نه لیونۍ اوس نو چې ترڅو واده ونه کړو یوځای نه شو اوسیدلی او بل چې اوس مه ځه کار درسره لرم
- خو څه کار؟
- پوهه به شې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تیاره خوره شوه، پیرودونکي کم شول، موبایل مې را واخیست پر واټسپ مې کور ته ویډیو کال وکړ وزیره مې څنګ ته ناسته وه مور سره مې خبرې کولې ومې ویل:

- ادې یو څوک درښایم

وزیرې په غوږ کې راته وویل:

- نه کیږي زه شرمیږم

مور وویل:

- څوک راته ښايې وښایه کنه

کیمره مې د وزیرې طرف ته کړه مجبوره شوه وزیرې وویل:

- سلام علیکم خاله

مور سره یې خبرې کولې مور ورته وویل:

- دا څه خاله خاله راته وايې مور راته وایه

د وزیرې سترګې ډکې شوې موبایل مې ترې واخیست ویډیو مې بنده کړه د باندې ووتلم مورته مې وویل:

- هغ له ماشومتوب د مور او پلار مینه نده لیدلې ځکه احساساتي شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



موبایل مې بند کړ وزیرې ته ورغلم، غلې ناسته وه، نور څه مې ونه ویل بس تر لاس مې ونیوله کور ته مې ورسوله زه بیرته ترې راغلم...

امریکا کې د مسافرتیا په غم پوی نه شوم ځکه چې وزیره راسره وه، وخت ښه تیریدو د شپې تر ناوخته مو یو بل سره پر واټسپ میسج کولو یوه شپه مو تر ناوخته چټ وکړ یو بل ته مو شپه پخیر هم وویل نیټ مې بندولو چې د وزیرې پیغام راغی لیکلي وو:
- ته خپل د فیسبوک پاسورډ (پټنوم) راته ولیږه
بې له کومې پوښتنې مې د فیسبوک پاسورډ ورته ولیږو او ویده شوم...

د همغې شپې سهار و، زه به تل وختي ویښیدم وروسته له لمانځه نه ویده کیدم لا د سهار رڼا پر ځمکه نه وه خوره چې د هوټل دروازه ټک ټک شوه ورغلم خلاصه مې کړه ومې لیدل چې وزیره ده ومې ویل:
- څه شوي؟ خیریت دی ولې دومره وختي راغلې؟؟

څه یې ونه ویل په تیزۍ را دننه شوه کښیناسته، دروازه مې بیرته بنده کړه څو گامه وړاندې ورغلم ومې ویل:
- اوس دا خو ووایه چې خیریت دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د واره یې وویل:
- هیڅ خیریت نه دی
- خو ولې؟؟
- ماته تاته څومره د ښه انسان فکر کولو خو ستا فیسبوک خو...
- ولې؟ زما فیسبوک خو څه؟
- نشم ویلی زما په خوله نه راځي واخله خپله دا سکرین شاټونه وګوره

موبایل مې ترې واخیست ومې کتل ډېر پخواني میسجونه وو، او زما فیسبوک اکونټ پخوا زما د ملګري و، دا میسجونه ما نه وو کړي خو د وزیرې غوصې ته مې چې کتل پوهیدم چې دا خبره نه مني، ورته ومې ویل:
- راشه وګوره
- څه وګورم؟
- دا دی فیسبوک اکونټ مې ډلیټ کړ ته خوشحاله

څو شیبې غلې وه بیا یې وویل:
- اوس یې ډلیټ کوې اوس به یې څه کړم؟

هیڅ مې ونه ویل ځکه غوصه وه درک کوله مې که پر ځای یې زه هم وای همداسې لا تر دې به ډېر غوصه کیدم، خیر دا ورځ خو په غوصه تیره شوه خو تر ۱۱ ورځو یې راسره په سمه خبرې ونه کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر واټسپ يې بلاک کړی وم، زړه مې ډېر خپه و، تر نيمو شپو به خوب نه راتلو فيسبوک مې هم ډليټ کړی و، يوټيوب کې هم يواځې غمگينې سندرې مخې ته راتلې سهار به چې را کيدو ماته به لږ لږ خوب راتلو چې راويښ به شوم سرې سترگې به گرځيدم يو سهار د چای څکلو وخت کې بهرام کاکا وويل:

- حمزه زويه څو ورځې شوې درته مې پام دی، سترگې دې سرې وي، که څه ستونزه وي او بې خوبه وې ماته يې ووايه؟

ومې ويل:

- نه کاکا دا سترگې مې د موبايل سکرين ته په کتو کله کله داسې کيږي...

همدې وخت کې هغې وويل:

- په داسې هلکانو شک نشته نشې به کوي!

ټولو وخندل خو بهرام کاکا چې زموږ له مينځ خبر و رډ رډ يې را وکتل زه سمدلاسه له خپل ځای پاڅيدم، دا ځل زه په ريښتيا ترې خپه شوم ځانه سره مې همدا ويل چې:

- که اوس داسې کوي وروسته له واده خو د خام خوري

ډيرې ورځې داسې تيرې شوې له يو بل سره مو خبرې نه کولې د شپې ۱ بجه وه يوټيوب کې مې ويډيوگانې کتلې چې د واټسپ دې ميسج شرنگ شو وزيره وه ما د ميسج پريويو بنده کړې وه يعنې ترڅو

(c) ketabton.com: The Digital Library



واټسپ خلاص نشي نه ښکاري چې میسج کې یې څه لیکلي خو زړه
مې دا څو خبرې کولې:
- که یې وګورې بیا به شک وکړي چې تر یوې بجې ویښ دی
- که دې ونه لیدو بیا هم خپه کیږي

د زړه ۲مه خبره مې ومنله میسج مې وکتلو یو ساده ایموجي و، ما هم
بیرته ایموجي ور واستوو، لنډه شیبه وروسته یې بیرته میسج راغی
پوهیږئ څه وو؟
- ښه نو تراوسه ویښ یې، چاسره مصروفه یې، کومې یوې سره؟

ماغزو مې کار ونه کړ چې څنګه یو څو دومره بد ګُمانه کیدلای شي
ما هم دې واره بلاک کړه، دا ځل مې هیڅ غوصه نشوه کنټرول...

سهار شو ۱۰ بجې وې ټولو چاې څکلی و، پخلنځي کې یواځې زه او
وزیره وو، زه چې ډیر غوصه وم په دروغو مې موبایل را واخیست
داسې تمثیل مې وکړ چې ګواکې له کور راته زنګ راغلی ومې ویل:
- هو هو مورې! بیخي مې خوښه شوه او ښه انجلۍ ده، بس نور چې
ستاسو خوښه وي زما هم خوښه ده مور او پلار سره یې خبرې وکړئ

وزیرې لوښي وینځل یوه پیاله یې لاس کې یو درز یې شو دې ځمکې
یې وویشته او له پخلنځي ووتله...

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما د هغې له داسې څورولو ډېر خوند واخیست چې همدې وخت کې بهرام کاکا را غږ کړ:
- حمزه زویه راشه دا لیسټ واخله دا څینې اړین شیان دي له بازاره یې راوړه

بازار ته ولاړم د افغاني خواړو مواد او اړین شیان ډېر په سختۍ په بازار کې پیدا کیدل څکه ډېر وخت ووتلو، مازدیګر کیدونکی و، چې بیرته هوټل ته را ورسیدم دننه ولاړم، یو کس ناست و، په زوره زوره یې خبرې کولې ویل یې:
- فاطمې! وروسته له واده به دلته کار نه کوي دا نو ښنګه ځای دی

له خبرو یې پوی شوم چې لوی کم عقل دی، له ګارسون مې وپوښتل:
- دا څوک دی؟
- نه یې خبر ولې، دا دې وزیرې دې پوهنتون ټولګیوال و، وزیرې ته یې څو ځلې د واده وړاندیز کړی و خو نه یې منلو اوس یې منلی نن راغلی او سبا پاریس ته ځي واده هلته کوي

له بدن مې ساه ووتله، ګونګی شوم، هیڅ ویلو ته وو، زړه مې درزیدو دې یو ایسکلیټ پشان ولاړ وم...

(c) ketabton.com: The Digital Library



لنډه شېبه وروسته بهرام کاکا راغی، هغه کس بیرته روانیدو وزیره یې تر لاس نیولې وه، زړه کې مې اور بل و خو هیڅ مې نه شوای کولای همدې وخت کې هغه کم عقل وویل:

- گورئ! ما دا دومره پیسې همدې وخت لپاره گټلې ټولو ته مې د ټکټ بند وبست کړی سبا به له فاطمې سره تاسو ټول هم پاریس ته راشئ

ولاړو...

په ما دا شپه هم سبا شوه، ژوند کې لا ډیر څه پاتې وو چې نه مې وو لیدلي

د سهار وختي بهرام کاکا راغی ویې ویل:

- زویه! ځان دې لا نه دی تیار کړی؟

- ولې کاکا؟ په څه مناسبت؟

- له مور سره پاریس ته نه ځې؟

- نه هوټل چاته پریږدو زه نه ځم

زه خو نه تللم دا معشوقې واده ته تگ ننگ ښکاریدو راته خو بهرام کاکا وویل:

- چې ته نه ځې زه هم نه ځم

نو ځکه مې ومنله ځکه د وزیرې پلار نه و، خو همدا بهرام کاکا یې لکه پلار داسې و، ومې نه غوښتل بې پلاره یې واده وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پاريس ښار ته ورسيدو له هوايي ډګر ټول يو هوټل ته د اوسيدو لپاره لاړو، شپه مو هوټل کې سبا کړه عمر ( زموږ همکار) دروازه را ټک ټک کړه ورغلم دروازه مې خلاصه کړه عمر وويل:
- راځه چکر ته ځو د پاريس ښار به وګورو
ومې ويل:
- نه ياره! تاسو ولاړ شئ زما سر لږ درد کوي
- ته راځه داسې چې خونې کې ځان قيد کړې نه ښه کيږې لږ تازه هوا به واخلې
ډېر يې ټينګار وکړ مجبور يې کړم چې ورسره ولاړ شم، وزيره هم راسره وه ډير سيلانيان راغلي وو، د پاريس لف بريج ( د مينې پُل) پر سر ولاړ وو يو هلک دا پُل نورو سيلانيانو ته معرفي کولو ويل يې:
- دا پُل تر دوه کلو د مخه له سلګونه زره قلفونو ډک و، دلته به مئينان راتلل او د پُل په يوه څنډه به يې قلف بند کړ او کلی به يې سيند ته ځطا کوله له کلونو راهيسې دلته دا دود تر سترګو کيدو د نړۍ له ګوټ ګوټ ددې پُل ليدو ته خلک راتلل ځکه د لف بريج په نوم مشهور دی، خو! تير کال د فرانسې حکومت له ياد پُل ټول قلفونه لرې کړل، ځکه د قلفونو ډير وزن د پُل د غورځيدو سبب کيدلو

ددې کس د خبرو خلاصيدو وروسته وزيرې په انګريزۍ وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- شاید نړۍ هم پوهه شوې وي چې مینه هسې یو خوشي بوج دی او که په شا دې کړ غورځیږي

ټولو وخندل زه له پله څو متره ها خوا ولاړم په څټ روان وم وزیرې ته مې کتل زړه مې درد کولو چې دا زړه هم په څه یوه نادانه مئین شو، هغه زموږ د مینې خبرې او ښې ورځې را یادیدې چې بهرام کاکا او عمر چغه کړه:
- پام کوه چې موټر دی...

نور پوی شوی نه وم

یو وخت مې سترګې خلاصې شوې صرف د یوې خونې چت راته ښکاریده د سترګو نظر مې ضعیفه شوی و، لنډه شیبه وروسته یوې انجلۍ په انګریزي ژبه وویل:
- ډاکټر صیب! راشه چې په هوښ راغی

ډاکټر راغی ځینې معاینات یې وکړل ویې ویل:
- اممم! اوږد خوب دې وکړ
ژر مې وویل:
- وزیره چیرته؟
ډاکټر وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- نه پوهیږم چې څوک یادوې خو ښاغلي بهرام ته مو خبر ورکړی اوس به را ورسیږي

څو شیبې وروسته بهرام کاکا راغی ډیره خوشحاله ښکاریدو ومې ویل:
- وزیره چیرته؟ واده یې تیر شو؟

کاکا غلی و، هیڅ یې نه ویل، بیا مې وپوښتل:
- کاکا ولې څه نه وایې؟

لنډه شیبه وروسته کاکا وویل:
- دیارلس میاشتې شوې چې کوما کې یې، وزیرې چې واده کړی بیا ترې خبر نه لرم

سر مې راباندې وګرځید، له لاس مې کنول لرې کړ او له ځای مې پاڅیدم ډاکټرانو کلک نیولی وم چې تراوسه نه یې ښه شوی خو زما مخه چا ونشوه نیولای ولاړم...

له روغتون ووتم، کاکا راپسې راغی ومې ویل:
- ګوره کاکا تا پر ما ډیر احسانونه کړي نن مې هم مخه ونه نیسي
کاکا په ژړغوني غږ وویل:
- نه زویه مخه د نه نیسم

(c) ketabton.com: The Digital Library



له جېب يې يو کاغذ را وويست ماته يې راکړ ويې ويل:
- آخر ځل مې چې له وزيرې سره خبرې کړې وې دا پته يې راکړې وه واخله که يې له دې پيدا کړې
- مننه کاکا

روان شوم چې کاکا بيا غږ وکړ راپسې، ودريدم کاکا خپل ماسټر کارډ راکړ ويې ويل:
- واخله په تش جيب روان يې له همدې يې مصرفوه، کوډ خو يې درته زده دی

کاکا ته مې غېږه ورکړه او مننه مې ترې وکړه...

وروسته له څو ساعتونو له امريکا پاريس ته ورسيدم، تم نه شوم همغې پتې ته ورغلم کور باندې قلف پروت وو يو شيبه ودريدم چې يو کس را غږ کړ:
- څوک د پکار دي؟
- دلته يوه انجلۍ اوسيده يو کال مخکې يې واده کړی و
- دا ځای خو ډير وخت شو تش دی

ناهيلی ترې روان شوم...

پاريس کې مې هيڅ ځای پرينښود هرځای مې وکتله خو وزيره نه وه، پيدا مې نه کړه، خو ژوند کول مې هم نشوای پريښودی، مجبور

(c) ketabton.com: The Digital Library



وم بیرته امریکا ته لاړ شم د بهرام کاکا احسان مې باید ادا کړی وای...

هوايي ډگر ته ورسيدم، د وزيرې يادونو کې ډوب وم د پاسپورټ او ټيکټ د چک کولو لپاره قطار کې ولاړ وم، پام مې نه و چې نوبت زما دی يو غږ مې واورید:

- ښاغليه! وخت مه ضايع کوئ، خپل پاسپورټ او ټيکټ راکړئ

مخ مې ور واړوو، په ځان پوی نه شوم د هوايي ډگر هغه کارکوونکې وزيره وه، ځای پر ځای ولويدم بې هوښه شوم، نه پوهيږم ولې خو شايد ضعيفه شوی وم، څو شيبې وروسته مې سترگې خلاصې شوې پر يوې څوکۍ پروت وم، ځان مې سيده کړ کښيناستم لنډه شيبه وروسته وزيره راغله يو بوتل اوبه يې لاس کې وې، څنگ ته کيناستله، اوبه يې راکړې، مننه مې ترې وکړه خو غلې وه هيڅ يې نه ويل هغه زما وزيره ماته نه ښکاريده بس په زړه مې زور راوست او ومې ويل:

- څنگه يې؟ خاوند دې څنگه دی؟

غلې وه څه يې ونه ويل بيا مې وپوښتل:

- ولې څه نه وايې؟

په ژړغوني غږ يې وويل:

- زه يې پريښودم!

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیڅ مې ونه پوښتل چې ولې یا دې څه لپاره له لاس مې ونیوله ویې ویل:

- څه کوې څه وشول؟

- پاسپورټ دې درسره شته؟

- هو خو ولې؟

- راځه نور ځو نور بدې ورځې خلاصې شوې

اوس یوځای یو، واده مو وکړ لومړیو کې وزیرې ځان ګرم ګڼلو خو اوس همغسې شیشکه ده، یوه لورکۍ لرو نوم یې مینه دی ډیره خوږه ده، د بهرام کاکا ټول قرضونه خلاص شول خو احسان به یې کله ادا نشم کړلای، اوس خپل کور لرو یو کوچنی ریسټورانټ مو جوړ کړی دې د واه ټېسټ

( ډبلیو.اې.اېچ) په نوم مانا دا چې وزیره اېنډ حمزه، خوشحاله یو همدا هرڅه ده، باقي به الله خیر کوي...

(c) ketabton.com: The Digital Library



پـــــــــای!

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**